سرلوڅ مرادزی

۲۰۱۶ / ۰۸ / ۲۳

# صدارت ته د اجرايوي رياست د لوړولو تازه هڅه

د ملي يووالي د حکومت له هوکړه ليکه چي يوه مياشت کم دوه کاله يې پوره کيږی، د نظارشورا او اسلامي جمعيت توله هڅه دا وه چي دغه دوه کلونو کي اجراييوي رياست د صدارت پست ته لوړ کړي.
په ياد تېر دوه کلونو کي د عبدالله په مشرۍ په سپېدار ماڼۍ کي ناستو چاراوکو چي ځانونه له ارګ سره په موازي واک کي ويني او په حقيقت کي **د موازي حکومت يوه نوي او ناعلان شوی بڼه** انځوروي، خپله توله بوختيا افغانانو ته د کار، ډوډۍ، روغتيا او په هېواد کي د سولي او امنيت پرځای د صدارت پست رسمي کولو ته اړم کړي وه!
همدارز په ياده موده کي د يوه تنظيم شوي پلان له مخي د صدارت په پرلپسي غوښتنو سره، سپېدار ماڼی دومره ارګ بوخت وساته چي ارګ هم د افغانانو د بنسټيزو غوښتنو او اړتياوو په پليتوب او ترسره کولو کي لکه څنګه چي پکاروو او يا ولسمشر اشرف غني د ټاکنو په مهال ولس سره ژمني کړي وې، پاتي راشي!
لکه څنګه چي ورته مخکي اشاره وشوه په هوکړه ليک کي د صدارت د رسمي کېدا لپاره د قانون لويه جرګه په ګوته شوي چي د هغي پرانيستل هم بيا د ولسواليو د شوراګانو تر جوړېدو او شوراګاني بيا پخپل وار تر ټاکنو پوري ځنډېدلي دي. بلخوا ټاکني بيا د اليکترونيکي تذکرو له ويش سره تړلي دي چي تذکرې هم تر اوسه پوري په دې لامل ونه ويشل شوې چي نظارشورا او جمعيت په تذکرو کي د افغان کلمي د ليکلو سره مخالفت کړی دی!
بلخوا د ملي يووالي د حکومت د رامنځته کېدو په هوکړه ليک کي د قانون لويي جرګي د جوړېدو لپاره چي هغه به د صدارت پست تاييدوي او يا به يې ردوي، دوه کاله وخت قيد شوی. اوس يوه مياشت وروسته ياني د روان کال د وږي مياشتي تر پايه، دوه کاله پوره کيږي. په تېرو دوو کلونو کي په تذکرو کي د افغان کلمي د نه ذکر په لامل، تذکرې ونه ويشل شوي چي د هغو پر بنسټ د ولسواليو د شوراګانو لپاره او بلخوا د ولسي جرګي او د مشرانو جرګي د يوې برخي لپاره ټاکني ترسره شوی وای او په پای کي د قانون لويه جرګه راغوښتل شوی وای!
نن چي تېر وخت ته ګورو، که نظارشورا او جمعيت په تذکرو کي د افغان کلمي له ذکر سره مخالفت نه وای کړي، دوه کاله پوره او بشپړ وخت وو چي ټاکني ترسره شوی وای او د قانون لويه جرګه هم د هغو پر بنسټ پرانيستل شوی وای!
همدا ډول تېر دوه کلونو کي د ټاکنو په کميسيونو کي چي بېخي تخنيکي او مسلکي ځانګړتيا لري او د قانون له مخي له لاسوهنو بايد خوندي وي، هغو سره سياسي چلند وشو او له دې لارې هم د ټاکنو بهير ته په لويلاس تاوان ورسيد.
دلته هم له بده مرغه د سپېدار ماڼی واکمنان چي ځانونه سپين چرګان بولي او پره توله پر هغه حکومت وراچوي چي له پنځوس سلنو زياته برخه يي د دوی په لاس کي ده، په خته پاک نه دي!
اوس د دوه کلونو په پوره کېدو سره چي نه تذکرې ويشل شوې، نه ټاکني ترسره شوې او نه د قانون لويه جرګه پرانيستل کېدای شي چي صدارت ته د اجراييه رياست د لوړېدا په غوښتنه بحث وکړي او د هغه برخليک روښانه کړي، د ملي يووالي د حکومت د رامنځته کېدا هوکړه ليک له ماتي سره مخ دي.
دا هوکړه ليک چي مخکي هم د اساسي قانون سره په ټکر کي رامنځته شوی او اوس يي قيد شوی دوه کاله وخت هم پوره کيږي، له دې وروسته بېخی د اعتبار وړ نه دی او د هغه پر بنسټ هيڅ ډول اجراات قانوني اوعملي بڼه نه لري!
پوښتنه دا ده ايا په تېر دوه کلونو کي د ملي يووالي حکومت چي د دغه هوکړه ليک پربنسټ يي چارې او دندي مخي ته وړي دي، بريالی وو؟ ايا د دغه هوکړه ليک له مخي د واک دوه مرجع چي يو يي ارګ او بل يي سپېدار ماڼی ده، په تېر دوه کلونو کي يي يوله بل سره لازمه همکاري درلوده او د شتون تجربه يي بريالی وه؟ايا په تېر دوه کلونو کي د هېواد امنيتي حالت د واک د دوه مرجع په لامل د لا ګواښ سره مخ نه دی؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

که هېواد کې د بیکارۍ، وزګارۍ، د افغانانو اقتصادي بېوزلۍ، تنګسې، روغتیا او نورو ټولنیزو ستونزو او ربړو لوړې کچې ته وکتل شي، له ورایه ښکاري چې د واک دوه مرجع ګانو یې په رامنځته کېدا کې لوی لاس لرلی دی!

ایا د واک د موازي ویش دغه ناکامه او ناوړه تجربه لاپسې وغځوو او درې کاله نوره یې هم اوږده وساتو؟
ځواب ښکاره دی، هغه تګلار چې پاتیتوب او ناوړتوب یې ټولو ته په ډاګه دی، ادامې اوغځولو ته یې اړتیا نشته!
بلخوا د دغه زیانمنې تګلار د پیل او ادامې غوښتنه ولسونه نه کوي. افغانان په تېر دوه کلونو کې د دغه هوکړه لیک پر بنسټ د زرینو فرصتو په بایللو هم پښیمانه دي. ولسونو د دې تګلار ناخوالې او زیانونه د افغانانو د بېشمېره ځاني تلفاتو او اقتصادي بحران په بڼه حس کړي او هغه یې ځکلي دی. د داسې تګلار شاته په نظارشورا او اسلامي جمعیت کې راټول شوې څو تنه معلومالحاله څېرې ولاړې دي!
دغو څېرو د هوکړه لیک د وخت د سرته رسېدو مخکې لا ځینې اقدامات او تدبیرونه تر لاس لاندې نیولې دی:
له دغو اقداماتو یو هم د بچه سقاوو د زړو هډوکو د بیا خښولو ډرامه ده. بچه سقاوو په ۱۹۲۸ کال کې د غلو یوې ډلې سره یوځای وژل شوی او په نامعلوم ځای کې ښخ دي او له دې وخته نږدې ۸۸ کلونه تېرېږي. داچې په تېرو ۸۸ کلونو کې نن ولې، د دې هوکړه لیک د وخت پوره کېدو سره سم د هغه د بیا ښخولو موضوع راپورته کیږي، ښکاره ده چې دلته د سقاوو زاړه هډوکي د فشار د یوې وسیلې پتوګه کاریږي. نظارشورا او اسلامي جمعیت غواړي د خپلو تنظیمي او سمتي موخو لپاره اوس د سقاوو له هډوکو د حضرت عثمان کمیس جوړ کړي او شمالي کې یې کور په کور او کلي په کلي وګرځوي او د شمالي ساده وګړي پر ارګ باندې د بل بغاوت لپاره راوپاروي!لکه څنګه چې سقاوو او د هغه ډاکوانو د انګریز په لمسون، اماني غورځنګ ۸۷ کاله مخکې په وینو ولمباوه او د هېواد د بیا ودانۍ او پوره خپلواکۍ لپاره یې د ځوان پاچا غازي امان الله خان تګلار شنډه کړه، دا ځل د هغه لمسیان او نوي سقاویان غواړي د هېواد د ودانۍ او ابادۍ اوسنی غورځنګ چې د نویتوب او دیموکراسۍ په موخه راپیل شوی او اوس یې مشرتوب ولسمشر غنی کوي، بیا له پښو راوغورځوي او د سقاوو د پیر له برخلیک سره یې مخ کړي.
دغه کړۍ همدا شان په لټه کې دي چې د تورتم غورځنګ(روښنایی غورځنګ!) په مټ د بروکسل په غونډه کې د هېواد بهرنۍ تګلار وګواښوي او افغانستان په نړیوال ډګر سپک او له بهرنیو مرستو یې بې برخه کړي چې د هغو ډیره برخه پخوا همدغه کړیو په بډه وهلې، او اوس یې پرځان د بندیدو په لامل، مخالفت ښۍ!
دا چې امرالله صالح د عبدالله په استازیتوب وایي، له دې وروسته به عبدالله په نوې بڼه ځان راڅرګند کړي، نوې بڼه یانې څه؟ ایا دوهم سقاوو! داسې بڼې ته نه اړتیا شته او نه افغانستان د پخواني سقاوو د پیر افغانستان دي. د قانون په چوکاټ کې عبدالله او ډله یې د صدارت پست لپاره څه لرې؟ عبدالله له ارګه کوم صدارت غواړي ایا صدارت په لنډه غرتوب ترلاسه کېدای شي؟
هره غوښتنه باید د اساسي قانون په چوکاټ کې وي او که داسې نه وي، ملا عمر او نن ملا هیبت الله هم له قانونه پورته غوښتنې لري چې افغانانو ته د منلو وړ نه دي.
بلخوا ارګ باید د هوکړه لیک پر بنسټ د تېر دوه کلونو تېروتنو، نیمګړتیاوو او پاتېکړو ته وګوري او هغه وارزوی. د واک موازي ویش چې په کور دننه او هم یې د هېواد په بهرنۍ سیاست کې خپل ناوړتوب ښودلای، په تېر دوه کلونو کې نه ګټه لرې او نه بریا ، نه ښایي له دې وروسته وپالل شي. عبدالله عبدالله ته دې په ارګ کې لوړه چوکۍ ورکړ شي، خو د ارګ سره دې په سپېدار ماڼۍ کې د واک موازي حکومت ختم شي.
په داسې مهال چې د هېواد یو شمېر ولایتونه د پنجابي ښکاره یرغل لاندې دي، د مرکزي حکومت په وړاندې د هرې ناقانونې او پاروونکې غوښتنې وړاندیز او په تېره بیا د هغې د پلیتوب لپاره په ولس کې د بغاوت هڅه ستر جرم او ملي خیانت ګڼل کیږي. افغانان باید نه یوازې د پنجاب له لوري روان یرغل ته پام وکړي، بلکې د هغه ترڅنګ په کور دننه د پنځم ستون توطیي او پارووونکي اقدامات هم له پامه ونه غورځوي او هغه په وخت شنډ کړي!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ